لیکوال: هانس کریستین اندرسن
ژباړن: آصف بهاند

۲۰۱۸/۰۷/۰۷

# د سفر ملګری

## (Rejsekammeraten)

## H.C. Andersen

### لومړی برخه




خوارکوټی یوهانس د خپل پلار د ناروغتیا له امله ډیر پریښانه و. د یوهانس پلار ناروغ په بستر کې پروت و او ورځ تر بلې یې حال په خرابیدو و. د هغوی په وړه کوټه کې پرته له پلار او زوی نه، بل څوک نه و. نور نو نا وخته و، ماخوستن په تیریدو و، پر میز باندې ایښې ډیوه په غلې کیدو وه.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ناروغه پلار وویل:
«ته یو ډېر ښه او مهربانه زوی وې. زه له تا نه ډېر خوشاله یم، خدای دې له تا نه خوشاله اوسي او په ژوند کې دې مرسته درسره وکړي.»
پلار په جدي، خو مهربانه نظر ور وکتل، بیا یې ژوره ساه واخیسته او مړ شو او داسې پروت و، ته وا په خواږه خوب ویده دی.



یوهانس ژړل او پرته له ژړا نه په دې دنیا کې هیڅوک او هیڅ شی نه و ورته پاتې، نه مور، نه خور، نه ورور او نه هم پلار، خوارکوټی یوهانس!
هغه د مړه پلار د تخت خوا ته ګونډه ووهله او د پلار لاس یې ښکل کړ، ډېر یې وژړل او ډېرې ترمې اوښکې یې تویې کړې.




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

سر يې د پلار د تخت پر کلکه ځنډه ايښی و، چې ځنګه يې سترګي سره ورغلي، يو عجيب خوب يې وليد.
هغه په خوب کي وليدل چې لمر او سپوږمۍ د درناوي په څير سر ورته ټيټوي، بيا يې پلار وليد چې جوړ او خوشاله دی او لکه تير وختونه، په خوښی سره خاندي، په څنګ کي يې يوه جلۍ وه چې پر سر يې د اوږدو ويښتانو د پاسه زرين تاج ايښودل شوی و، مهربانه او اصيله ښکاريده.
پلار يې وويل:
«وګوره څه يوه ښکلي ناوي مي درته پيدا کړي ده، په ټوله نړۍ کي داسي ښکلي او مهربانه نجلي نه پيدا کيږي.»
ناڅاپه يوهانس له خوبه را ويښ شو، له راويښيدو سره سم، په خوب کي ورته راغلي هر څه ورک شول، په تخت کي د پلار کرخته او سوړ مړی او يوازې خوارکوټی يوهانس، نور هيڅ څوک هم ورسره نه و.
مړی باید خاورو ته سپارل شوی وای. يوهانس د تدفين په لټه شو او د تابوت او د تدفين د نورو اړتيا وړ شيانو د بيي پوښتنه يې وکړه.
دی ډير نا اميده شوی و، دومره نا اميده چې فکر يې کاوه چې زړه به يې وچوي. مذهبي سرود وويل شو، مړی خښ شو او يوهانس دومره وژړل چې ښه يې خپل زړه تش کړ.
لمر د ونو پر شنو پاڼو ځليده او ځانګړي صافه هوا وه، داسي بريښيده چې لمر يوهانس ته وايي:
«ته بايد نور خواشيني نه اوسي!
وګوره اسمان تک شين او ښکلی دی،
پلار دي هلته پاس دی او تا ته دعا کوي او له خدای نه غواړي چې ته په ژوند کي نيکمرغه اوسي او هر څه دي په خوښه وي.»
يوهانس له ځانسره وويل:
«زه به هرکله ښه اوسم او په پاکی او ښيګڼه به ژوند وکړم، څو لکه خپل پلار جنت ته لاړ شم، هلته به بيا يو بل سره وګورو، بيا به زه د ويلو له پاره ډير څه ولرم او هغه به هم ما ته ډير شيان راوښيي او د جنت د پرتم او عظمت په باب به خبري وکړي.
هماغسي يې چې په خپل ژوند کي ډير څه رازده کړل، په جنت کي به هم ډير څه رازده کړي،
اوه، بيا به څه ښه خوشالتيا او نيکمرغي وي!»

د لومړۍ برخي پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ